مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۵مه | ٤۷۹یمه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### میوند د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د دې موسسې اداره وايي، په دغه موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۳۰۰ استادانو له خوا پر مخ وړل کېږي، چې ډېری يې د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري.




# د واشنګټن پوسټ د راپور په دوام؛

## راین کراکر: امریکا دې نوره خپله ناکامي ومني او له افغانستانه دې ووځي



۳

### ایا ټاکنیزه لانجه حل شوې؟

۲ مخ


### د ناټو ۷۰یمه کلیزه او افغانستان

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۳ مخ

### برېښنا شرکت: د نغلو برېښنا بند څلورم توربين له ۱۲ کلن ځنډ وروسته بیا فعال شو



د برېښنا شرکت چارواکو ويلي، د نغلو برېښنا بند څلورم توربين له ۱۲ کلن ځنډ وروسته بیا فعال شو.
دوی ویلي چې د دغه توربين په فعالېدلو سره د هېواد د برېښنا په شبکو کې ۲۵ میګاواټه برېښنا نوره ور زیاته شوه.
د دغه شرکت وياند وحيدالله توحيدي ويلي چې په دې سره به پنځه زره کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې شي. هغه زیاته کړې: «په نغلو بند کې یو توربين په ۲۵ میګاواټه ظرفيت سره د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د برېښنا شرکت د کارکوونکو له خوا یو توربين بيا فعال او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو».
د توحيدي په خبره، د دغه توربين په رغولو د نړیوال بانک ۳.۵ میلیونه ډالر لګښت راغلی دی.
هغه دغه راز ویلي چې د برېښنا د دغه توربين تر څنګ په سروبي ولسوالۍ کې یو سب سټېشن هم ګټې اخيستنې ته سپارل شوی، چې په خبره يې ۲۷ کلیو ته برېښنا ورکوي.

### سرچينې: د امریکايي پلاوي او طالبانو تر منځ خبرې به روانه اونۍ بېرته پيل شي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی چې د لنډې مودې لپاره د مذاکراتو تر درېدو وروسته اسلام اباد ته تللی و، له پاکستاني چارواکو سره تر لیدنو کتنو وروسته بېرته قطر ته تللی دی. په دوحه کې د طالبانو او متحده ايالتونو تر منځ د مذاکراتو له جريان څخه با خبره کسانو ويلي، چې پر باګرام پوځي اډې د طالبانو تر برید وروسته، د دواړو خواوو تر منځ مذاکرات بې خونده شول او د لنډې مودې لپاره ودرېدل.
دوی ویلي چې خلیلزاد اسلام اباد کې له پاکستاني چارواکو سره پر همدغو مسایلو خبرې کړې دي او ښايي د سولې مذاکرات به بېرته روانه اونۍ پيل شي. د سياسي چارو شنونکي سميع یوسفزي ویلي: «ښاغلی خلیلزاد د پاکستان له سفره بېرته قطر ته راستون شو، ظاهره خبره ده چې د طالبانو او امریکایانو خبرې هغه مهال بې خونده شوې چې پر باګرام باندې لوی برید وشو چې خبرې هم ورسره ټکنۍ شوې، خو داسې برېښي چې دا خبرې به روانه اونۍ بېرته پيل شي». د سولې له روانې پروسې باخبره کسان وايي، چې خلیلزاد له پاکستاني چارواکو غوښتي، څو د تاوتریخوالي کمولو او له حکومت سره مستقیمو خبرو ته د طالبانو حاضرولو په برخه کې له خپل نفوذه کار واخلي. دوی وايي چې خلیلزاد د حکومت او طالبانو تر منځ د مستقیمو خبرو تر څنګ د اوربند پر ټينګښت هم ټينګار لري.
خو پخواني طالب چارواکي وايي، چې مذاکرات د طالبانو په غوښتنه د لنډ وخت لپاره درول شوي او په دې موده کې به طالبان له خپلو مشرانو سره د اوربند او له حکومت سره د مستقیمو مذاکراتو په تړاو سلا مشورې کوي.

### د روانې اونۍ تر پايه به د ولسمشريزو ټاکنو لومړنۍ پايلې اعلان شي




۵ مخ

### وزارت حج و اوقاف: پروسهٔ حج تا یک سال دیگر الکترونیکی می شود




وزارت ارشاد، حج و اوقاف و ادارهٔ آسان خدمت وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی؛ تفاهمنامه ای به هدف الکترونیکی ساختن پروسهٔ حج را در کابل امضا کردند.
محمد فهیم هاشمی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، حین امضای تفاهمنامه گفته است که این اقدام برای شفافیت و سرعت در امور مربوط به ادای فریضهٔ حج صورت می گیرد.
وی گفته است که این سیستم، تا یک سال آمادهٔ استفاده می شود.
هاشمی افزوده است: «بر اساس این تفاهمنامه، اداره آسان خدمت؛ پروسه های موجودهٔ وزارت ارشاد، حج و اوقاف را مطالعه، سیستم الکترونیکی حج را ایجاد و برای کارمندان این وزارت، ورکشاپ های ارتقای ظرفیت را برگزار خواهد کرد».
عبدالحکیم منیب سرپرست وزارت ارشاد، حج و اوقاف که در این نشست حضور داشت گفته است که تمام مراحل پروسه حج چون ثبت نام، اخذ پاسپورت، ویزه، معلومات رفت و برگشت، استفاده از ساختمان ها در عربستان سعودی، تحویلی پول و غیره، شامل سیستم الکترونیکی می شوند و این معلومات به زبان های پشتو، دری و انگلیسی قابل دسترسی خواهد بود.
وی افزوده است که از این طریق، عایدات و مصارف پروسهٔ حج به گونهٔ موثر کنترول و مدیریت خواهد شد.
او خاطر نشان کرده است که همه ساله، حدود ۳۰ هزار تن از افغانستان جهت ادای فریضهٔ حج به عربستان سعودی می روند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### ایا ټاکنیزه لانجه حل شوې؟

له هغه وروسته چې د ثبات او همپالنې ټیم مشر عبدالله عبدالله له خپلو پلویانو وغوښتل چې ټاکنو کمېسیون ته په اوو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکړي، ځینې کسان فکر کوي چې ټاکنیزه لانجه حل شوې او ژر به وروستۍ پایلې اعلان شي. ځینې کسان د یوې پټې معاملې خبره هم کوي، چې پر اساس یې د عبدالله عبدالله دریځ بدل شوی گڼي .
خو ایا رښتیا ټاکنیزه لانجه حل شوې؟ پایلې به ژر اعلان شي؟ او افغانستان به ژر منتخب ولسمشر ولري؟
د څو دلایلو پر اساس ویلی شو چې ټاکنیزه لانجه نه ده حل شوې، بلکې دوام کوي:
لومړی؛ ډاکټر عبدالله عبدالله نه دي ویلي چې په اوو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکوي او بیا به د ټاکنو کمېسیون له خوا اعلان شوې پایلې مني. نوموړي او پلویانو یې ټینگار کړی چې که د ټاکنو کمېسیون پاکې او ناپاکې رایې بېلې نه کړي، نو دوی به پایلې نه مني. د عبدالله د پلویانو په خبره، د اشرف غني په گټه کارول شوې درې سوه زره رایې باید باطلې شي. دا رایې له وخته مخکې او له وخته وروسته کارول شوې او یا هم هغه رایې دي چې بایومټریک وسیلې او یا د وسیلو میموري کارتونه یې ورک شوي دي. په دې کې ځینې نورې رایې هم راځي، چې د قانون او طرزالعملونو پر اساس ستونزې لري. اوس که کمېسیون پایلې اعلان هم کړي او د دغو رایو مسئله حل نه شي، نو ټاکنیزه لانجه حل نه ده او همداسې به ستونزې، مزاحمتونه او لاریونونه دوام کوي.
دویم؛ اټکل دی چې عبدالله عبدالله ته ډاډ ورکړل شوی چې ټاکنې به دویم پړاو ته ځي، نو ځکه یې اجازه ورکړه چې په اوو ولایتونو کې رایې بیاوشمېرل شي. که ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي، ستونزه نوره هم لویېږي، ځکه دویم پړاو به راتلونکی کال کېږي چې هغو ته بیا د لگښت او امنیت برابرول ستونزمن کار دی. تر دې ستونزمن هم چې دا ځل خو شاوخوا یو نیم میلیون خلک را ووتل، بل ځل به د دومره کسانو را ایستل هم ستونزمن وي.
درېیم؛ که له ډاکټر عبدلله سره د واک د شریکولو معامله هم شوې وي، بیا هم ستونزه نه ده حل، ځکه چې په ۲۰۱۴ ز کال کې هم له عبدالله سره واک شریک شو او د ملي یووالي حکومت جوړ شو، خو لانجه یې د حکومت تر پایه پورې روانه وه او آن اوس هم نه ده حل شوې.
پر همدغو دلایلو ټاکنیزه لانجه حل شوې نه ده، ښایي بله برخه یې پیل شوې وي او یا هم لا زیاته پېچلې شوې وي. دا تمه سمه نه ده چې موږ به په راتلونکو ورځو کې منتخب ولسمشر ولرو. لومړی خو به د پایلو اعلان نور هم وځنډېږي او که اعلان هم شي، نه به منل کېږي، بیا به په شکایتونو کمېسیون کې ستونزې وي او د وروستیو پایلو اعلان به ډېر نور هم وځنډېږي. واقعیت دا دی چې اصلي خبره لا هم د امریکا له سفارت سره ده او دا چاره په قطر کې د خبرو له ځرنگوالي سره تړلې ده. په قطر کې بدلونونو د ټاکنو پر برخلیک اغېز لاره او له دې وروسته به هم ژور اغېز ولري.

# د ناټو ۷۰یمه کلیزه او افغانستان

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

برېټانیا د ۲۰۱۹ ز کال د ډسمبر په ۳مه او ۴مه د ناټو غړو هېوادونو د دوه ورځنۍ ناستې کوربه وه. په دغه ناسته کې پر اروپایي مشرانو سربېره، د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ، د ناټو د نورو نړیوالو ملگرو هېوادونو استازو، د ملگرو ملتونو او نړیوال بانک استازو هم برخه اخیستې وه.
د ناستې په دویمه ورځ د افغانستان د سولې او ټاکنو موضوع او په دغه هېواد کې د ناټو ماموریت، په اجنډا کې د بحث مهم ټکي وو چې په پایله کې ناټو د افغان امنیتي ځواکونو د مالي ملاتړ پر ټینگار سربېره، د طالبانو او امریکا د مخامخ خبرو د بیا پیل هرکلی وکړ. همدارنگه یې د ټاکنو د پایلو د ژر اعلان او له ټولو خواوو یې د پایلو د منلو غوښتنه هم وکړه.
په دغه ناسته کې له افغان امنیتي ځواکونو د مالي ملاتړ پر ټینگار سربېره، د ناټو ځینو غړو هېوادونو په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او مشورې په برخه کې د خپلې همکارۍ د زیاتوالي خبره هم وکړه. دغه راز د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرگ ټینگار وکړ چې په افغانستان کې به تر هغه وخته پورې خپل حضور ته دوام ورکړي، څو چې ورته اړتیا وي.
په افغانستان کې د ناټو حضور او ښکېلتیا، د سولې په برخه کې د دغه سازمان رول، د ناټو د اویایمې کلیزې د لمانځنې په موخه د لندن ناسته او دا چې د دغې ناستې د پرېکړو په رڼا کې به د افغان سولې راتلونکی څه وي؟ هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**ناټو او په افغانستان کې یې ښکېلتیا**

ناټو (NATO) یو سیاسي او نظامي سازمان دی چې له دویمې نړیوالې جگړې را وروسته د لوېدیځې اروپا او امریکا متحده ایالتونو له خوا د ختیځې اروپا او پخواني شوروي اتحاد څخه دوی ته د احتمالي خطرونو د پېښېدو د مخنیوي په موخه، د ۱۹۴۹ ز کال د اپرېل په ۴مه د شمالي اتلانتیک تړون(North Atlantic Treaty organization) په نوم رامنځ ته شوی دی.
په امریکا کې د سپتمبر د ۱۱مې له پېښې را وروسته، کله چې دغه هېواد د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په ۷مه پر افغانستان برید وکړ او د طالبانو نظام یې ړنگ کړ، په افغانستان کې د امنیت ټینگښت د آیساف (ISAF) ځواکونو مسوولیت وبلل شو او له ملگرو ملتونو سازمان څخه یې د جواز په تر لاسه کولو سره پر افغانستان د امریکا برید ته مشروعیت ورکړ، چې وروسته په ۲۰۰۳ ز کال کې د افغانستان په جگړه کې د آیساف (ISAF) ځواکونو رهبري ناټو (NATO) ته وسپارل شوه.
د امریکا په ملاتړ او د ناټو په مشرۍ نړیوالو ځواکونو تر ۲۰۱۴ ز کال پورې په افغانستان کې د نظامي ماموریت تر څنگ، د (PRT) پروگرام په نوم د بیارغونې ځینې فعالیتونه هم تر سره کړل؛ خو دغه فعالیتونه تر ډېره په غیر زیربنایي برخو کې وو.
په ۲۰۰۱ ز کال کې ظاهراً پر افغانستان د امریکا د برید تر شا د اسامه بن لادن له قضیې ورهاخوا، د طالبانو د امارت ړنگول یا د طالبانو ختمول، د افغان پوځ جوړونه او د یوه ډیموکراتیک نظام په رامنځ ته کولو سره په افغانستان کې سوله او ثبات رامنځ ته کول وو، چې په دې برخه کې نړیواله ټولنه او د ناټو سازمان غړي هېوادونه هم د امریکا څنگ ته ولاړ وو؛ خو دا هرڅه په ربښتینې او کامله توگه تر سره نه شول او دلیل یې هم دا و چې امریکا له یادو موخو ورهاخوا، د سیمې په کچه نورې مهمې موخې هم درلودې او له همدې امله پرته له دې چې په افغانستان کې امنیت ټینگ شي، په روانه جگړه کې تر اوسه لسگونو زرو افغانانو ته مرگ ژوبله واوښته.
سره له دې چې اوسمهال په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو شمېر له څه باندې سلو زرو څخه شاوخوا ۱۴۰۰۰ سرتېرو ته را کم شوی، خو جگړه د تېر په پرتله په شدت روانه ده. له طالبانو علاوه «اسلامي دولت» یا داعش ډلې هم خپل فعالیت په افغانستان کې پیل کړ، خو په دې وروستیو وختونو کې د افغانستان په شرق کې د ناټو او امریکایي ځواکونو د هوایي همکارۍ په مرسته، افغان حکومت او طالبانو ورسره جگړې وکړې. د دوی په خبره، د افغانستان په مشرقي ولایت ننگرهار کې داعش په مکمل ډول ختم شوی، خو د ناټو په سرمشریزه کې د فرانسې جمهور رییس امانوېل مکرون په خپلو خبرو کې وویل چې په نړیواله سطحه داعش اوس هم نړۍ ته جدي خطر دی او دوی ته په نړیواله سطحه کمپاین روان دی. همدارنگه د ترکیې جمهور رییس رجب طیب اردوغان هم له نړیوالې ټولنې څخه د داعش پر وړاندې د یو کېدو غوښتنه وکړه او د افغانستان لپاره یې اوس هم ستر گواښ یاد کړ، خو د امریکا جمهور رییس د دوی پر خلاف د داعش د مشر په وژل کېدو د دوی د ماتې په مانا یاد کړ.

**ناټو او د سولې قضیه**


هغه جگړه چې امریکا د ناټو په ملاتړ ظاهراً په افغانستان کې د نوي نظام رامنځ ته کولو او امنیت ټینگښت په موخه پیل کړې وه، که څه هم تر ۲۰۱۴ ز کاله د څه باندې سلو زرو جنگیالیو پر مټ مخ ته لاړه، خو پای ته ونه رسېده. په دغه جگړه کې چې لا هم روانه ده، نه طالبان مات شول او نه هم افغانستان آرام شو. بهرنیو ځواکونو له ۲۰۱۴ ز کال وروسته د افغان جگړې گرم او مرگوني میدان افغان امنیتي ځواکونو ته پرېښود، له دوی څخه که څه هم لسگونو زرو یې افغانستان پرېښود؛ خو لا هم دمگړۍ په افغانستان کې د ناټو له څه کم ۲۹ هېوادونو څخه ۱۴۰۰۰ بهرني پوځیان مېشت دي.
په امریکا کې د ډونالډ ټرمپ له ولسمشر کېدو سره د دې هېواد له لوري د افغان جگړې په اړه د جنوبي آسیا لپاره نوې پوځي تگلاره اعلان شوه، چې د دې تگلارې محراق افغانستان و. د دغې تگلارې له مخې بهرني ځواکونه یو ځل بیا د افغان جگړې ډگر ته را وگرځېدل، جگړه گرمه شوه او هوایي بمبارۍ زیاتې شوې چې له امله یې په ډېرې بریدونو کې ملکي خلکو ته پراخه مرگ ژوبله واوښته او د یوناما د وروستي راپور پر بنسټ، یوازې د ۲۰۱۸ ز کال په جریان کې ۱۰۹۹۳ عامو افغانانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.
خو د ۲۰۱۸ ز کال په آواخرو کې د امریکا جمهور رییس د افغان کشالې د حل لپاره یوازینۍ د حل لار خبرې اترې وبللې، نو ده له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل په موخه د امریکا پخوانی سفیر زلمی خلیلزاد خپل استازی وټاکلو. زلمي خلیلزاد له طالبانو سره په تېر تقریباً یوه کال کې ۹ پړاوه اوږدې مخامخ خبرې وکړې، چې د دې خبرو په پایله کې امریکایي لوری له طالبانو سره نهایي موافقې ته رسېدلی و؛ خو په ظاهر کې د طالبانو په یوه برید کې د امریکایي سرتېري له وژل کېدو سره د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ د ټویټ په کولو سره له طالبانو سره ۹ پړاوه خبرې چې پایلې ته نږدې شوې وې، بندې کړلې چې دا کار د سیمې د هېوادونو او نړیوالې ټولنې له توندو غبرگونونو سره مل و. د نومبر په ۲۸مه د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ، افغانستان ته د یو نااعلان شوي سفر په ترڅ کې له طالبانو سره د مخامخ خبرو د بیا پیل اعلان هم وکړ، چې په دې سره یو ځل بیا زلمي خلیلزاد خپل سفر له افغانستان څخه پیل کړ او د ملي یووالي حکومت له مشرانو سره له لیدلو وروسته یې له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل په پار قطر ته لاړ.

**ناټو او د افغانستان راتلونکی**

د ناټو په وروستۍ سرمشریزه کې د سولې په برخه کې طالبانو او امریکایانو د مخامخ خبرو د بیا پیل ستاینه وکړه. دغه راز د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ وویل: «موږ ژمن یوو چې د افغانستان ملاتړ ته ادامه ورکړو؛ ځکه چې موږ پر دې ژور باور لرو چې د افغان ځواکونو روزل، هغوی ته سلامشوره ورکول او مرسته کول د سولې د هڅو تر ټولو ښه لار ده، څو طالبان پوه شي چې د جگړې په ډگر کې به کله هم بریالي نه شي. هغوی باید د خبرو میز ته کښېني او نوي موافقو ته مخه کړي».
د ناټو د عمومي منشي خبرو ته په کتو سره، چې د یاد سازمان د اویایمې کلیزې د لمانځنې په غونډه کې یې وکړې، له ځان سره واضح د جنگ پیغام لري، بې له شکه په افغانستان کې د ناټو غړو هېوادونو حضور په تېرو اتلسو کلونو کې نظر افغانستان ته د یاد سازمان غړو هېوادونو زیات گټور ثابت شوی، دوی خپل سرتېري په متناوب ډول باندې افغانستان ته رالېږي، څو دلته جگړییز مهارتونه عملاً زده کړي. همدارنگه د افغانستان د ځمکې او هوا کنټرول له دوی سره و او دی، چې په دې سره دوی د دې فرصت لري چې خپلې نوې جوړې شوې وسلې په افغان خاوره کې د حیواناتو پر ځای پر حقیقي انسانانو باندې وآزمویي. همدا راز دوی پرته له اجازې هر وخت او هر ځای کولای شي، ورځنۍ او شپنۍ عملیات تر سره کړي او هغه ساحې چې غواړي یې، بې د چا له مشورې یې بمبار کولی شي. نو له دې نه معلومېږي چې د یاد سازمان غړو هېوادونو د افغانستان له خلکو او خاورې څخه د لابراتوار په بڼه پوره گټه تر لاسه کړې ده او بل دا چې د یاد سازمان مهم غړي، امریکا نړیوالو ټولنو ته تر اوسه پورې اجازه نه ده ورکړې، څو د یاد سازمان د غړو هېوادونو جنگي جرمونه چې په افغانستان کې یې تر سره کړي دي، په اړه یې څېړنه وکړي.
ناټو فیصله کړې چې په افغانستان کې به خپل حضور ته دوام ورکوي، خو دا وضعیت تر نامعلومې مودې پورې دوام نه شي کولای، ځکه د افغانستان خلکو کلک هوډ کړی چې په خپل وطن کې به شته حاکم وضعیت ته تغیر ورکوي. همدارنگه د سیمې او نړیوالې ټولنې ډېرې غړي هم دې پایلې ته رسېدلي، چې په افغانستان کې د جگړې پر ځای د سولې لار غوره کړي. بې له شکه په افغانستان کې جگړه نه دې افغانانو په گټه ده او نه هم د ناټو سازمان د غړو هېوادونو. نو پکار ده چې یاد سازمان د خپلې اویایمې کلیزې په درشل کې په افغانستان کې سولې ته د رسېدو پر لارو چارو جدي غور وکړي. ځکه چې د دې جگړې دوام نه یوازې د افغانستان خلکو او د سیمې هېوادونو ته په زیان دی، بلکې یاد سازمان هم له جدي ستونزو سره مخامخ کولی شي.

## حقوق پوهان: په ارگ او سپېدار ماڼۍ کې د غني او عبدالله ټاکنیزې ناستې د قانون خلاف دي

پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او حقوق پوهان په ټاکنیزو مسایلو کې د ملي یووالي حکومت د مشرانو له لوري له دولتي امکاناتو استفاده د قانون خلاف بولي.
دا په داسې حال کې ده چې په ارگ کې د ولسمشر غني له لوري د دولت جوړوونکي ټاکنیز ټیم له ناستې یوه ورځ وروسته، ورمه شپه اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم په سپېدار ماڼۍ کې د ثبات او همپالنې ټیم له رهبرۍ سره ناسته درلوده.
عبدالله د اوو ولایتونو پنجشیر، فاریاب، بغلان، سرپل، تخار، جوزجان او بدخشان د رایو بیاشمېرنې په تړاو خپله پرېکړه له سپېدار ماڼۍ څخه اعلان کړه. نوموړي د ټاکنیزو مشورو لپاره د خپل ټیم غړي دغې دولتي ادارې ته وربللي وو او د شپې ډوډۍ یې هم ورکړه.
د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم غړي فضل احمد معنوي د دغې ناستې په تړاو ازادي



راډیو ته ویلي، په اجرایه ریاست کې د دې ناستې په تر سره کولو سره دوی وغوښتل دا وښیي چې لا هم په حکومت کې ونډه لري.
هغه ویلي: «موږ د یو ځل لپاره وغوښتل چې خپله ناسته په اجرایه ریاست کې وکړو، څو وښیو چې لا هم موږ د حکومت یوه برخه یو او همدا لامل دی څو چې غوښتنو ته د رسیدگۍ امکان وي او دروازې زموږ پر مخ مکملې تړل شوې نه وي، موږ گام په گام د ټاکنو له پروسې سره پاتې کېږو. هرکله چې دروازې زموږ پرمخ وتړل شي، طبیعي ده چې موږ به خپل تصمیم ونیسو».
خو د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا ویلي، دا چې ټولو نوماندانو ته په دولتي تاسیساتو کې دې دا شان ناستو جوړولو امکانات نشته، نو هغه کاندیدان چې د حکومت برحاله غړي دي، باید له دې کاره ډډه وکړي. د فیفا اجرایوي مشر یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي، دې دا ډول ناستو جوړول په دولتي ادارو کې توپیري چلند او د لوبې د قاعدې خلاف کار دی. هغه دغه راز زیاته کړې: «د قانون او قاعدې پر اساس باید له دولتي امکاناتو د نوماندانو پر ضد یا گټې کار وانه خیستل شي».
دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د ټاکنو قانون د نوماندانو پر ضد یا د هغوی په گټه د دولتي سرچینو کارول منع کړي.
د دغه قانون د لسمې مادې په دویم بند کې راغلي: «د یوه مشخص کاندید په گټه او یا ضرر د هر ډول شتمنیو، تسهیلاتو او دولتي سرچینو کارول منع دي. له عامه او دولتي سرچینو او تسهیلاتو څخه برابره گټه اخیستنه د دې قانون د احکامو له مخې له دې حکم څخه مستثنی دي».
بلخوا حقوق پوهان په ارگ او سپیدار ماڼۍ کې د ولسمشر اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله له خوا د ټاکنیزو ناستو جوړول له قانون سره په ټکر کې بولي.
د افغانستان د حقوق پوهانو ټولنې مرستیال سبحان مصباح ویلي، په دولتي ادارو کې هر ډول ټاکنیزې ناستې د ټاکنو د لومړنیو پایلو تر اعلان پورې، د ټاکنو د قانون د لسمې مادې خلاف عمل دی.

# د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

دویمه برخه:

**د WTO plus او WTO minus وجایب**

د سوداګرۍ نړیوال سازمان د ۱۲مې مادې عبارت خورا پراخ دی او د الحاق واک ټول برحاله غړو ته ورکړل شوی دی. دوی له نوي یوځای کېدونکي هېواد سره مذاکرات کوي او کوښښ کوي چې اضافي شرایط پرې ومنې. بل د ۱۲مې مادې عبارت دا نه ده ځانګړې کړې چې له نوي یوځای کېدونکي غړي څخه به تر کومه حده ژمنې اخیستل کېدای شي. یانې د ژمنو لپاره کوم حد نه دی ټاکل شوی. دغه ابهام او پېچلتوب د الحاق ټوله پروسه د اصولو د رعایتولو پر ځای سخته مذاکراتي کړې ده. هېوادونه باید د مذاکراتو پر مهال نه یوازې دا چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان ټول هوکړه لیکونه ومني، بلکې له برحاله غړو سره په ډېرو مواردو کې اوږدمهاله مذاکرات وکړي، څو اضافي وجایب قبول کړي او له ځینو حقونو چې برحاله غړي یې لري، څخه تېر شي. کله چې یو هېواد د سوداګرۍ نړیوال سازمان پر هوکړه لیکونو سربېره اضافي وجایب مني، دې ته WTO plus obligations وایي. د بېلګې په توګه، پر وارداتو تعرفې ښکته کول، د دولتي ادارو او شرکتونو شخصي کول او داسې نور. خو که نوی یوځای کېدونکی هېواد له یو حق څخه چې برحاله غړو ته ورکړل شوی وي او دی ترې د مذاکراتو پر مهال تېرېږي، دغه ته WTO minus obligations وایي. یانې نوی یوځای کېدونکی هېواد د سازمان په هوکړه لیکونو کې ورکړل شوي شته حقونه له ځانه نفې کوي. د بېلګې په ډول، برحاله غړو ته په ډېرو مواردو کې د سازمان له هوکړه لیکونو سره د قوانینو او پالیسیو عیارولو لپاره انتقالي موده ورکول کېږي، دغه موده نوي یوځای کېدونکي هېواد ته نه ورکول کېږي. لږ پرمختللي برحاله هېوادونه د TRIPS موافقې سره د قوانینو د مطابقت لپاره تر ۲۰۳۳ ز کال پورې وخت لري او شاید وروسته نور هم تمدید شي، خو افغانستان چې له سازمان سره نوی یوځای کېدونکی هېواد و، سره له دې چې لږ پرمختللی هېواد هم دی، انتقالي موده یې د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې ورکړل شوې ده. دلته افغانستان د لږ پرمختللي هېواد په توګه له خپل یوه حق څخه تېر شو او اضافه مسوولیت یې واخیست چې دې مسوولیت ته WTO minus obligations وایي. همدا راز نوي یوځای کېدونکي هېوادونه د اصلي غړو هېوادونو په پرتله باید په توکو او خدماتو څو چنده اضافه تعرفې ښکته کړي. د WTO plus او WTO minus وجایبو ناقدین وایي چې یاد وجایب پرمختللي هېوادونه د نویو یوځای کېدونکو هېوادونو پر ضد د آلې په توګه کاروي، څو د نویو یوځای کېدونکو هېوادونو په مقابل کې خپلې ګټې خوندي کړي.

**په لنډه توګه د الحاق پروسه**

د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق د یوه رسمي غوښتنلیک په وړاندې کولو سره پیلېږي، کله چې دغه غوښتنلیک سازمان ومني، نو ورسره کاري ګروپ (Working Party) د سازمان لخوا تاسیسېږي. په دغه ګروپ کې د سازمان هر غړی هېواد کولای شي ګډون وکړي. د کاري ګروپ کارونه بیا پر دریو پړاوونو وېشل شوي. لومړی پړاو یې حقیقت موندنه (Fact-Finding) ده. په دې پړاو کې کاري ګروپ له عارض هېواد څخه د سوداګریز رژیم په اړه معلومات غواړي. د دې موخه دا ده چې کاري ګروپ د عارض هېواد له پالیسیو او قوانینو خبر شي او د نورو مذاکراتو لپاره ورته لاره هواره شي. عارض هېواد کاري ګروپ ته د بهرنۍ سوداګرۍ د رژیم په اړه یادښت (Memorandum of the Foreign Trade Regime)، ملاتړي اسناد او د سازمان د غړو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي. دویم پړاو د خبرو اترو دی چې هم په ګڼ اړخیزه(Multi-lateral) ، څو اړخیزه (Plurilateral) او دوه اړخیزه (Bilateral) کچه تر سره کېږي. عارض هېواد په دې پړاو کې له سازمان سره د کرنې ملاتړ، صادراتي سبسېډۍ او د توکو او خدماتو لپاره بازار ته پر لاسرسي بحث کوي. د سوداګرۍ نړیوال سازمان هر غړی د زراعت په ملاتړ، د صادراتو سبسېډۍ، تعرفو او خدماتو په اړه ژمنې کوي او دغه راز دغه هېوادونه له عارض هېواده دا هم غواړي چې ورته ژمنې وکړي او خپل ملي قوانین او پالیسۍ د دغه سازمان له قوانینو سره سمې عیارې کړي. د معنوي ملکیت پر حقوقو، د توکو او خدماتو په اړه پر عمومي اصولو ګڼ اړخیز مذاکرات کېږي. د زراعت پر ملاتړ او صادراتو سبسېډۍ بیا په څو اړخیزو مذاکراتو کې کېږي، یانې له کاري ګروپ څخه یوازې هغه هېوادونه چې په دغو مذاکراتو کې لېوالتیا لري، برخه اخلي او بازار ته د لاسرسي مذاکرات بیا په دوه اړخیزه کچه تر سره کېږي. کله چې ګڼ اړخیز، څو اړخیز او دوه اړخیز مذاکرات پای ته ورسېږي، بیا وروستی پړاو پیل کېږي. کاري ګروپ خپل کارونه خلاصه کوي او راپور تهیه کوي. په راپور کې د ټولو هغو ژمنو لنډیز لیکل کېږي چې عارض هېواد د مذاکراتو پر مهال منلي وي او هم ورسره د الحاق پروتوکول ضمیمه کېږي. د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړي د خپلې پرېکړې د تصویب پر مهال عارض هېواد ته د الحاق شروط وړاندې کوي، عارض هېواد دغه شروط د پروتوکول په لاسلیک کولو سره ټول مني. د الحاق پروتوکول ۳۰ ورځې تر هغې وروسته نافذېږي چې د عارض هېواد پارلمان یا بله باصلاحیته اداره یې تصویب او توشیح کړي.

**دوام لري...**

# د واشنګټن پوسټ د راپور په دوام؛

## راین کراکر: امریکا دې نوره خپله ناکامي ومني او له افغانستانه دې ووځي



وروسته له دې چې امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ د افغانستان د جګړې په اړه ځینې اسناد خپاره کړل، پر امریکایي حکومت نیوکې ډېرې شوې دي. د افغانستان او نړۍ په کچه وتلو ژورنالېستانو، ډیپلوماتانو، لیکوالانو او سیاستوالو په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه پر دروغو ولاړه جګړه بولې او امریکایي حکومت ټولې نړۍ، امریکا او افغانستان ته په دروغو ویلو تورنوي. دوی وایي چې امریکا دې اوس خپلې تېروتنې جبران کړي او له دغه هېواده دې خپل سرتېري وباسي. پخواني امریکایي ډیپلومات راین کراکر ویلي چې امریکا دې د خپلې ماتې په منلو سره له افغانستانه پښې سپکې کړي. څو ورځې کېږي چې واشنګټن پوسټ د افغانستان د جګړې په اړه مهم اسناد خپاره کړل. په دغو اسنادو کې له امریکایي ډیپلوماتانو، نظامیانو او په افغانستان کې د روانې جګړې له مامورینو سره خبرې شوې دي. دوی ویلي چې امریکایي ولسمشرانو د افغان جګړې په اړه ولس ته دروغ ویلي دي او په دې جګړه کې د وژل شوو سرتېرو مسوولیت هم د دوی پر غاړه دی. دوی دلته روانه جګړه، بې هدفه، پر دروغو ولاړه، بې مانا او خونړۍ بللې وه. تازه ډېرو امریکایي چارواکو، استازو، نړیوالو ژورنالېستانو او ډیپلوماتانو هم پر دغه راپور لیکنې کړې دي او د هغه خپرول یې مهم کار بللی دی.

په افغانستان کې د امریکا یوه پخواني سفیر راین کراکر په همدې تړاو یوه لیکنه کړې ده. نوموړي په دغه لیکنه کې ویلي چې افغانستان د امریکا لپاره دویم ویتنام شو، نو پکار ده چې امریکایي ځواکونه له دغه هېواده و ایستل شي. د ده په باور، امریکایي چارواکي له لومړي سره پر دې پوهېدل چې په افغانستان کې بریا ته نه شي رسېدلی، خو بیا یې هم پر دغه بې مانا، اوږده او ناکامه جګړه باندې میلیاردونه ډالر ولګول. کراکر د پخواني ولسمشر حامد کرزي دا خبره هم تایید کړې چې د امریکا بې حسابه او بې مانا لګښتونو په افغانستان کې پراخ فساد ته هم لاره هواره کړه او په دغه هېواد کې یې نوي کشمکشونه رامنځ ته کړل. کراکر ټینګار کوي چې امریکا دې نور په افغانستان کې خپله ماتې ومني او له دغه هېواده دې خپل سرتېري وباسي.

په ورته وخت کې امریکایي لیکوال اریک مارګولیس په یوه مقاله کې وایي چې امریکا باید د عامو افغانانو د وژلو له امله د شرم احساس وکړي. د ده په خبره، امریکا د ترهګرو په نامه پر عامو افغانانو او طالبانو له درنو بریدونو کار واخیست او زرګونه افغانان یې په یوه نامعلومه جګړه کې ووژل. د ده په خبره، دا د امریکایانو لپاره ستر شرم دی چې د یوې نامعلومه او ناکامې جګړې لپاره یې عام افغانان وژلي دي. تر دې وړاندې مشهورې هالنډۍ لیکوالې بېټې ډم هم ویلي وو چې یوازې امریکا نه، بلکې نړیوال هم باید له افغانانو بښنه وغواړي. د نوموړې په خبره، امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو زرګونه افغانان د یوې بې هدفه جګړې لپاره وژلي دي، نو ځکه پکار ده چې له ټولو افغانانو بښنه وغوښتل شي.

له دې سره جوخت د امریکایي پوځیانو هم ځینې مقالې خپرې شوې دي. یوه امریکایي پوځي مېرمن لارین کې جانس چې په افغانستان کې یې ماموریت تر سره کړی وایي، دنده یې د جګړې په اړه تبلیغات کول وو. نوموړې ویلي، نه یوازې امریکایانو، بلکې افغانانو ته یې هم د جګړې په اړه ناسم معلومات ورکول او د جګړې د تبلیغاتو مسووله وه. نوموړې وایي، دوی نه یوازې افغانان، بلکې لوړپوړي امریکایي چارواکي هم تېر ایستل او د دوی د غولولو لپاره یې منظم پلانونه جوړول. جانس وایي، ښایي د تبلیغاتو له امله یې په ناکامه جګړه کې ډېرې تېروتنې کړې وي او د امریکایي حکومت په دروغو کې شریکه وي.

له دې سره سیاسي او حقوقي فعال عبدالشکور دادرس وایي، نړۍ د بدلون په حال کې ده، نو امریکا ته پکار ده چې حقایق ومني. د ده په خبره، امریکا ناکامه جګړه کړې ده، نو لا هم ډېر وخت دی چې دغه هېواد خپله ماتې ومني او امریکا نه یوازې په افغانستان، بلکې په ټوله نړۍ کې خپلې ماتې ومني.

# سیستاني: په عراق کې د حکومت ضد لاریونوالو پر وړاندې د جنایت روانه لړۍ باید ژر تر ژره ودرول شي

د عراق لوی مذهبي مشر ایت الله سیستاني د حکومت ضد لاریونوالو وژنه او تښتونه جنایت بللې او غوښتنه یې کړې چې پکار ده ټولې وسلې او مهمات د دولت په کنټرول کې راوستل شي.

هغه دغه راز خبرداری ورکړی چې د لاریونوالو پر وړاندې د جنایت روانه لړۍ باید ژر تر ژره ودرول شي.

دا په داسې حال کې ده چې د فرانسې خبري اژانس په حواله، له کله چې د اکتوبر میاشتې په لومړۍ نېټه په عراق کې د حکومت ضد لاریونونه پیل شوي، شاوخوا ۴۶۰ کسان پکې وژل شوي او ۲۵ زره نور ټپیان شوي چې ډېری یې لاریون کوونکي دي.

د اداري فساد، بېکارۍ او د کمزورو ټولنیزو خدماتو له کبله دغه لاریونونه په پلازمېنه بغداد او د عراق د جنوب په هغو سیمو کې روان دي، چې ډېری اوسېدونکي یې شیعه دي.

خو په دې وروستیو کې تقریباً هره ورځ په پلازمېنه او جنوبي ښارونو کې لاریونوال نادرکه کېږي او په ډېریو مواردو کې دوی له اعتراضونو کورونو ته د ستنېدو پر مهال تښتول کېږي.

د عراق مخکښ شیعه ملا ایت الله علي سیستاني په کربلا کې وویل: «د اعتراض کوونکو دردوونکې وژنه او هغه څه چې په دې وروستیو ورځو کې پېښېږي، له قتلونو نیولې د اعتراض کوونکو تر تښتولو پورې د هغه څه اهمیت په ډاګه کوي، چې دیني مراجع ورباندې ټینګار کوي، هغه دا چې اړتیا ده ټولې وسلې د دولت له خوا کنټرول شي».

بلخوا د بښنې نړیوال سازمان د عراق له حکومته غوښتي، چې له هغه څه لاس واخلي چې دغې ادارې د اعتراض کوونکو د ترور او وېشتلو کمپاین بللی دی.

په ورته وخت کې لاریونوالو بیا ایران پلوه وسله والې ډلې تورنې کړې چې د خلکو په دغو وژنو او تښتولو کې لاس لري.

سیستاني په خپلو خبرو کې د ورمې ورځې برید ته اشاره کړې چې نامعلومو وسله والو د بغداد په هغه ساحه کې چې اعتراض کوونکو له څو ورځو پکې کمپ جوړ کړی، پر یوې څو پوړیزې ودانۍ چاپه ووهله او اور یې ور واچاوه.

روغتیایي سرچینو او عیني شاهدانو ویلي چې په پېښه کې لږ تر لږه ۲۰ اعتراض کوونکي او څلور پولیس وژل شوي او شاوخوا ۸۰ نور اعتراض کوونکي ټپیان شوي دي.

سیستاني له حکومته د هغو کسانو د مجازاتو غوښتنه کړې چې په ناکاریو کې لاس لري، هغه له اعتراض کوونکو هم غوښتي چې سوله ییز اعتراضونه دې کوي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریمه برخه

افغانستان

### لسم څپرکی
### په لوی کندهار کې نوي طالبان




د ۲۰۰۲ز کال په فبروري کې مې یوه وړه الوتکه کې کندهار ته سفر وکړ. غزني کندهار ته مې دا لومړی سفر و. د سفر پر مهال راته وویل شول چې د کندهار هوایي ډګر د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د القاعدې نظامي اډه وه. د ۲۰۰۱ز کال ډسمبر میاشت دلته د امریکایي ځواکونو په سخته جګړه کې په سلګونو عرب جګړه ماران وژل شوي وو.
له کندهار هوایي ډګر څخه څو کیلومتره لیرې دې تاریخي او لرغوني ښار ته لار ننوتلې. د کندهار ښار ډېری کورونه له خښتو او خاورو جوړ دي. زوړ ښار له نوي ښار څخه توپیر کوي، دلته سړکونه او کوڅې وړې، خو په نوي ښار کې پراخ سړکونه او نوې ودانۍ لیدل کېږي.
دلته په وروستي معاصر تاریخ کې ډېرې جګړې شوې دي. ځینې دولتي ودانۍ چې له روسانو سره د جګړې پر مهال ویجاړې شوې تر دې مهال هماغسې ویجاړې ولاړې وې. زړو ودانیو له نوو توپیر کاوه. هغه چې د امریکایي الوتکو په بریدونو کې ورانې شوې وې، هم له ورایه ښکارېدې. ډېری کندهاریانو به پر دې ښار د غورځول شوو وېروونکو میزایلو او امریکایي بمونو کیسې کولې.
له لومړنیو هوایي بمباریو سمدستي وروسته د افغانستان په دې دوهم اړین او لوی ښار کې ژوند عادي حالت ته تللی و. عام خلک به له لویو او پراخو جامو، رنګینو لونګیو او لنګوټو سره په ختېینو کوڅو کې ګرځېدل. هلکانو به د فوټبال او ګوډي الوزولو لوبې کولې. نجونو ښوونځیو ته تګ پیل کړی و. دا مهال د طالبانو د امر باالمعروف او نهی عنی المنکر اداره ورکه شوې وه، کندهاریانو به کندهاري موسیقي هم اورېده. په ډېریو ټکسي موټرونو کې د سویل د نامتو سندرغاړي، عبیدالله جان سندرې غږېدې.
خو ژوند لا له ګواښونو سره مخ و. راتلونکو میاشتو کې مې د افغانستان د سویل ځینو سیمو ته سفرونه وکړل. له دې حقیقت څخه سترګې نه پټېدې چې اکثره عامو افغانانو په سخت غربت کې ژوند کاوه. کلونو جګړو او وچکالۍ د مالدارو او کروندګرو د ژوند ستونزې لا ډېرې کړې وې. له کندهار ښار څخه دوه ساعته سفر وروسته مې ولیدل چې د پاکستان پولې ته څېرمه ۹۰۰۰۰ کوچیانو او کروندګرو د بې ځایه شوو په کمپ کې ژوند کاوه.
په لوی کندهار کې د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، فراه او نیمروز ولایتونه شامل دي. دا لرغونی ښار په پخوا کې د اراکوزیا په نوم یادېده. د دې ښار خښته څلورمه ق. م پېړۍ کې د لوی سکندر له لوري اېښودل شوې. په دې ولایت کې د درانیو او غلجیو لوی قومونه اوسېږي، هغوی د پښتو کره لهجه او کندهاری دود پالي. له پېړیو پر دې سیمه لویو امپراتوریو چپاوونه راوړي چې په ترخ کې یې جګړې او ورانۍ شوې دي. د دې سیمې حاصل خېزه ځمکو دا ځای په کرنیز مرکز بدل کړی. ایران او پاکستان ته یې په نږدېوالي سره د یوې اړینې دوه لارې ارزښت خپل کړی دی.
دې سیمې د معاصر تاریخ په ۱۸مه پېړۍ کې پښتانه امپراتوران زېږولي چې د غلجیو او درانیو له قومونو څخه دي. دا امپراتورۍ تر معاصر ایران او هندوستان پورې ورسېدې، ځکه نو کندهاریان تل وایي چې د افغانستان برخلیک له کندهار سره تړلی دی. د ویښو زلمیانو اصلاح غوښتونکی غورځنګ په ۱۹۴۰ز لسیزه کې را پورته شو. هغوی پر اساسي قانون ولاړ دولت او د اتباعو د حقونو لپاره مبارزه وکړه. د دې غورځنګ اکثرو غړو د شلمې پېړۍ افغانستان لپاره ډېرې هڅې وکړې. له کورنۍ جګړې وروسته په ۱۹۹۰ز لسیزه کې له همدې ځایه طالبان راپورته شول. کندهاریان د پاکستان د سویل لوېدیځ ولایت بلوچستان له پښتنو سره په دودیزه توګه ډېر نږدېوالی لري. دا دلیل سبب شوی چې پاکستاني جاسوسان د اسلاماباد پالیسیو د پلي کولو لپاره په اسانۍ سره کندهار ته ننوتلای شي. د ۱۹۸۰ز لسیزې له پیله کندهار د نیابتي جګړو په برخه کې کلیدي رول لاره. په ۲۰۰۲ز کال، په کندهار کې پر سیاسي بې ثباتۍ او نېستۍ سربېره بیا هم خلک عادي ښکارېدل. هغه مهال کندهار یوازینی لوی ښار و چې پر شپني ګرځېدو پکې بندیز و. کندهاریان خوښ وو چې له همدې سیمې یو شاهي پال او پیاوړی قومي مخور حامد کرزی د امریکا د ملاتړ لرونکې انتقالي دورې مشر ټاکل شوی و. اکثرو یې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د سولې، پرمختګ او د هغوی په ژوند کې د بدلون هیلې لرلې، خو ځینو کندهاریانو بیا د حامد کرزي په حکومت کې د ټوپکیانو پر شاملېدو اندېښنه لرله. د مجاهدینو هغو ډلو چې د روسانو پر ضد یې جګړه کړې وه، د طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته حکومت کې یې د لویو ونډو غوښتنې کولې. کندهاریانو وېره لرله، که یو ځل بیا واک د ټوپکیانو لاس ته ورشي، ښایي بیا ناامني شي.

**مړ کېدونکی ملت**

په لوی کندهار کې د ۲۰۰۳ز کال تر دوبي پورې ارامي وه. دا ځل د زړو تنو پر شاوخوا طالبانو د زابل ولایت د دای چوپان ولسوالۍ له غرونو جګړه پیل کړه. له پیله طالبانو د قومي مخورو په وېرولو لاس پورې کړ، هغوی یې له کورونو وشړل. کله چې راتلونکو کلونو کې د طالبانو جګړه د سویل ډېرو ولایتونو ته وغزېده، هغوی د قومي مشرانو په له منځه وړلو تمرکز وکړ. هغوی قوي قومي مخور، د حکومت مامورین او پوهان خپل هدف وګرځول.

**دوام لري...**

# میوند د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




په ۲۰۰۱ ز کال کې د موقتې ادارې په راتلو سره او له هغه وروسته په رسمي ډول د پخواني ولسمشر حامد کرزي له راتګ سره سم، ډېرو افغانانو عصري زده کړو ته مخه کړه او پوهنې وزارت پر دې وتوانېد چې هر کال زرګونه کسان د لوړو زده کړو لپاره لوړو زده کړو وزارت ته د کانکور د ازموینې لپاره ور وپېژني. دا چې کال په کال د دغو فارغانو شمېر زیاتېدو، نو لوړو زده کړو وزارت ونه توانېد چې د دوولسمو ټولګیو ټول فارغین دې د لوړو زده کړو او یا هم نیمه لوړو زده کړو لپاره جذب کړي، نو اړتیا ته په کتو په دې برخه کې خصوصي سکټور ته هم اجازه ورکړل شوه، څو د لوړو زده کړو له معیارونو سره سم خدمات پیل کړي او محصلین جذب کړي. دغه هڅه ان له ۲۰۰۳ ز کال را پدېخوا کېده، خو په ۲۰۰٦ ز کال کې یې په عملي ډول افغان حکومت، په تېره بیا د لوړو زده کړو وزارت خصوصي سکټور ته هم اجازه ورکړه چې په دې برخه کې پانګونه وکړي، د لوړو زده کړو موسسې رامنځ ته کړي او بیا ګام پر ګام پوهنتون ته ارتقاع وکړي، د پوهنځیو شمېر یې زیات شي او ان د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره هم محصلین جذب کړي. ډېری خصوصي پوهنتونونه په دې برخه کې ډېر ګټور ثابت شوي، په ډېرو برخو کې یې په کارپوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. که په دې برخه کې خصوصي سکټور ګام نه وی اخیستی، کېدای شوای زرګونه افغان ځوانان هغه چې په بهر کې یې د لوړو زده کړو توان نه درلود، له زده کړو بې برخې شوي وای. د خصوصي پوهنتونونو یوه ښېګڼه دا هم ده چې تر ډېره یې د هغو کسانو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړې چې غواړي دوه یا درې پوهنځي ولولي، ماسټري وکړي او یا هم په رسمي وخت کې په دولتي او یا هم نا دولتي ادارو کې کار وکړي.
له دې ډلې یوه هم د میوند د لوړو زده کړو موسسه ده چې په دې برخه کې یې هېوادوالو ته د لوړو زده کړو چانس برابر کړی دی.
میوند د لوړو زده کړو خصوصي موسسې، په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته، خپلې لومړنۍ چارې په ۱۳۸٦ لمریز کال کې پیل کړې دي. د میوند د لوړو زده کړو خصوصي موسسې مالي او اداري مدیر ذبیح الله هاشمي وایي، د لوړو زده کړو دغې موسسې په لومړي سر کې دوه پوهنځي (اقتصاد او کمپیوټر ساینس) درلودل. ښاغلی هاشمي وایي، دا چې دوی د لوړو زده کړو وزارت له معیارونو سره سم فعالیت کړی و، نو دغه وزارت ورته په امتیازي ډول د ښوونې او روزنې پوهنځي د فعالیت اجازه هم ورکړه. خو نوموړی وایي چې د حقوقو پوهنځي چارې یې هم تر یوې کچې مخ ته تللې دي، چې په ټوله کې اوس میوند د لوړو زده کړو موسسه څلور پوهنځي (اقتصاد، کمپیوټر ساینس، ښوونه او روزنه او حقوق او سیاسي علوم) لري؛ خو په حقوقو پوهنځي کې یې تر اوسه پورې محصلین نه دي جذب کړي.
د ښاغلي ذبیح الله هاشمي په خبره، د اقتصاد پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (مالي او اداري)، کمپیوټر ساینس پوهنځی یې (د ټکنالوژۍ) ډیپارټمنټ لري او ښوونې او روزنې پوهنځی یې بیا لس ډیپارټمنټونه لري. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې اوسمهال د څلورو زرو په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ۷۵ سلنه یې ښځینه محصلینې دي. دا چې میوند د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه پورې پوهنتون ته ارتقاع نه ده کړې، نو د ماسټرۍ کوم پروګرام هم نه لري، خو ښاغلی هاشمي وایي چې لومړی باید له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړي او وروسته به د ماسټرۍ کارونه پیلوي.

د میوند د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري برخې مدیر ذبیح الله هاشمي وایي، تر اوسه یې په پنځلسو دورو کې اته زره محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې ډېری یې اوس په دولتي او خصوصي ادارو کې په بېلابېلو بستونو کار کوي. دی وایي، د ورځې په دریو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي. د نوموړي په خبره، دوه وختونه یې د هغو کسانو لپاره دي چې د ورځې په اوږدو کې رسمي دنده لري او هغه محصلین چې رسمي دنده نه لري، د سهار له نهو تر ۱۲ بجو پورې د زده کړو لپاره ورځي. هاشمي وایي، د جذب کچه یې خورا لوړه ده. دی وایي، په هر کانکور کې د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې محصلین جذبوي.
هاشمي وایي، له ۳۰۰ څخه زیات استادان لري چې د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د هغه په خبره، میوند د لوړو زده کړو موسسه د خپلو استادانو د زده کړو د کچې لوړوالي ته پام کوي او بهرنیو هېوادونو ته یې د دوکتورا او ماسټرۍ په پروګرامونو کې د ګډون لپاره استوي. د نوموړي په خبره، اوس یې هم ځینې استادان په هند کې پر ماسټرۍ اخیستو بوخت دي. میوند د لوړو زده کړو موسسه په کابل ښار کې درې فعالې څانګې لري.
د لوړو زده کړو د یادې موسسې مالي او اداري مدیر وایي، د خصوصي پوهنتونونو په کچه تر ټولو معیاري او مجهز کتابتون لري، چې د شلو زرو ټوکو په شاوخوا کې بېلابېل علمي کتابونه پکې موجود دي. دی وایي، دغه کتابونه چې د پوهنځیو اړوند او نور علمي کتابونه پکې دي، تازه یې له هند او نورو هېوادونو څخه راوړي، څو یې محصلین او استادان ترې د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. ښاغلی هاشمي وایي، هڅه یې دا ده چې د محصلینو او استادانو د اړتیا وړ ټول کتابونه په خپل کتابتون کې ولري.
میوند د لوړو زده کړو موسسه هم د نورو خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسه په څېر، محصلینو ته تخفیف ورکوي. د دې موسسې مالي او اداري مدیر وایي، له لوړو زده کړو وزارت، د خصوصي پوهنتونونو له ریاست، ځوانانو معینیت او ځینو نورو ادارو سره هوکړه لري چې له مخې یې هغه محصلین چې د دې ادارو له لوري ورته معرفي کېږي، په ځانګړي تخفیف اړوندو پوهنځیو ته جذبوي او لوړې زده کړې کوي. د هاشمي په خبره، د لوړو زده کړو وزارت له لوري د دولتي ډیپلومونو وېش دوره یې دی او دغه لړۍ تر اوسه پورې میوند د لوړو زده کړو موسسې ته نه ده رسېدلې، نو فارغ شویو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوې پاڼې ورکوي، چې محصلین کولای شي په کور د ننه او بهر کې پرې لا نورې لوړې زده کړې وکړي او دنده واخلي.
د دې موسسې اداره وایي، راتلونکي پلانونه یې دا دي چې لومړی باید پوهنتون ته ارتقاع وکړي، ور پسې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي او د هېواد په کچه د پوهنتون لپاره دایمي او لویه ودانۍ ولري، څو خپلې ټولې څانګې یوه ځای ته را ټولې کړي او د محصلینو لپاره د زده کړو یوه ارامه فضا برابره کړي. د ښاغلي هاشمي په خبره، تر اوسه پورې د کوم بل نوي پوهنځي د تاسیس پلان نه لري. دغه موسسه په هېواد کې د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري او غواړي دغه اړیکې لا پیاوړې کړي، څو د یو او بل له تجربو ګټه واخلي.
د میوند د لوړو زده کړو موسسه له لوړو زده کړو وزارت څخه کومه ځانګړې غوښتنه نه لري، خو د تضمین کیفیت پروګرام یې ستایي او وایي چې خصوصي پوهنتونونه باید تر څار لاندې ونیول شي، څو خلک پر خصوصي پوهنتونونو باندې باور وکړي او زده کړو کولو ته په کې زړه ښه کړي. د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، ډېری خصوصي پوهنتونونه خپلې دایمي ودانۍ نه لري او په ډېره لوړه کچه مالیه پرې کوي، چې دغه څه یې د پرمختګ مخه نیسي. د دې تر څنګ، لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر په امر باندې په خصوصي پوهنتونون کې د هر ډول نویو اقداماتو او تاسیساتو مخه نیولې ده، چې دا د خصوصي پوهنتونونو په زیان ده او د پرمختګ مخه یې ډپ کړې ده. دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته په یوه سترګه وګوري او د متوازن پرمختګ زمینه ورته برابره کړي.

همیانی

# راه‌کارهای مؤثر برای مقابله با آلودگی هوا در درازمدت

ترجمه: احمد فردوسی

امروزه، هوایی که نفس می‌کشیم پر از آلاینده‌های خطرناک و زهری است. آلودگی محیط زیست، زیبایی و تنوع زیستی طبیعت را بر هم زده است. هر سال میلیون‌ها نفر در سراسر جهان به علت مشکلات ناشی از آلودگی هوا جان خود را از دست می‌دهند. از طرف دیگر، کودکان به این علت که بیشتر از بزرگسالان نفس می‌کشند، آسیب بیشتری در برابر آلودگی هوا می‌بینند. آلودگی هوا حتی آثار بدی بر روی سلامت جنین می‌گذارد. همراه ما باشید، در این مطلب می‌خواهیم به بررسی مسئولیت شهروندی برای مقابله با آلودگی هوا در درازمدت بپردازیم.

راز داشتن یک زندگی سالم در شناسایی منابع آلودگی هوا و انجام کارهایی است که می‌توان به کمک آنها آلودگی هوا را متوقف نمود. اگر می‌خواهید در این جنبش زیست‌محیطی نقشی داشته باشید، باید به دنبال روش‌های مختلفی باشید که به یاری آنها از بزرگتر شدن مشکلات آلودگی جلوگیری کنید. ما به ۴۱ روش اشاره خواهیم کرد تا با به‌کارگیری آنها بتوانید در توقف آلودگی هوا در محل زندگی خود و جهان اطراف‌تان مشارکت داشته باشید.

**۱. از وسایل حمل‌ونقل عمومی استفاده کنید**

کمتر از موتر خود استفاده کنید. اگر این امکان برای شما وجود دارد از شیوه‌های همسفری استفاده کنید و به جای قدم زدن، استفاده از حمل‌ونقل عمومی را مد نظر داشته باشید، بدین ترتیب شما با اضافه نکردن موتر خود به جمع سایر آلاینده‌ها، از همکاری در ایجاد مشکلات آب‌وهوایی خودداری کرده‌اید.

**۲. هوشمندانه رانندگی کنید**

اگر معمولاً خودتان رانندگی می‌کنید، اطمینان حاصل کنید که به قدری هوشمندانه رانندگی می‌کنید که بنزین هدر نمی‌دهید. از محدوده‌ی سرعت تجاوز نکنید، اطمینان حاصل کنید که چیز اضافی در موتر خود قرار نداده‌اید که باعث سنگینی آن شود و هر تدبیری که باعث کاهش مصرف بنزین می‌شود را به کار ببندید.

**۳. به طور منظم موتر خود را چک کنید**

با انجام وارسی‌های منظم، اطمینان حاصل نمایید که موتر شما بیش از اندازه بنزین مصرف نمی‌کند. با این کار نه تنها در هزینه‌های خود صرفه‌جویی کرده‌اید بلکه عمر موتر خود را بالا می‌برید.

**۴. هوای تایر موتر خود را چک کنید**

اگر هوای تایرهای موتر تنظیم نباشد، مصرف سوخت موتر بالا خواهد رفت. تنظیم باد تایرها، تأثیرات محیط‌زیستی را نیز کاهش خواهد داد.

**۵. موتر دوستدار محیط‌زیست بخرید**

موترهایی بخرید که به محیط‌زیست آسیب نمی‌رسانند. امروزه گزینه‌های زیادی هستند که یا مصرف سوخت پایینی دارند یا از سوخت‌های ترکیبی استفاده می کنند پس با خرید این چنین موترهایی دیگر هیچ جای نگرانی از بابت مصرف بالای سوخت و آلوده‌کردن جو زمین وجود نخواهد داشت. اگر به دنبال خرید یک موتر نو هستید، به موتر های دوستدار محیط‌زیست روی بیاورید.

**٦. به فکر زندگی سبز و دوستدار محیط‌زیست باشید**

راه‌های بسیاری برای سبز زندگی کردن وجود داد و بسیاری از آنها باعث کاهش هزینه می‌شود که در نتیجه روی آوردن به این سبک از زندگی را آسان‌تر می کند. ببنید که آیا در محل زندگی شما سیاست‌ها و تسهیلاتی برای تشویق به روی آوردن به زندگی سبز وجود دارد.

**۷. گل کاری کنید**

گل و گیاه به هوا مواد مفید منتقل می کند که به تمیز نمودن هوا کمک می کند. گیاهان زیادی وجود دارند که آلودگی‌های موجود در جو را می‌خورند. تحقیقی دراین خصوص انجام بدهید و ببینید کدام‌یک از آنهایی که به پاکیزه نمودن هوا کمک می کنند را می‌توان به راحتی پرورش داد.

**۸. از رنگ استفاده کنید که ترکیبات آلی فرار کمتری دارند و با آب تهیه شده‌اند**

از رنگ‌هایی استفاده کنید که با آب تهیه شده باشند، نه فرآورده‌های نفتی. هرچه محصولات فرآورده‌های نفتی کمتری استفاده کنید، کمک بیشتری به محیط زیست خواهید کرد چرا که این کار یعنی مصرف کمتر نفت و فرآورده‌های نفتی.

**۹. چراغ‌های اضافی را خاموش کنید**

هرگز چراغ‌ها یا سایر وسایل الکتریکی را روشن نگذارید. هرچه مصرف برق بیشتری داشته باشید، انرژی بیشتری اتلاف خواهید کرد و درنتیجه باعث آلودگی بیشتر هوا می‌شوید.

**۱۰. به فکر استفاده از برق سبز باشید**

از برقی استفاده کنید که توسط انرژی‌های تجدیدپذیر مثل انرژی برق‌آبی، باد یا خورشید تولید می‌شوند.

**۱۱. از انرژی آفتابی استفاده نمایید**

به جای انرژی‌های مرسوم، به انرژی آفتابی روی بیاورید. استفاده از انرژی خورشیدی باعث صرفه جویی در مصرف سایر انرژی‌ها می‌شود و مهم‌تر از آن، در درازمدت شما می‌توانید پول بیشتری نیز پس انداز کنید.

**۱۲. به جای زغال از گاز طبیعی استفاده کنید**

به جای زغال از پروپان و گاز طبیعی استفاده کنید. با این کار دیگر دود ناشی از سوخت‌های فسیلی را که برای محیط‌زیست به شدت مخرب است به آسمان نمی‌فرستید.

**۱۳. از اجاق‌های هیزمی مناسب استفاده کنید**

به جای اجاق‌ها و بخاری‌های نفتی از اجاق‌های هیزمی مناسب استفاده کنید. هر چقدر نفت کمتری استفاده کنید، کمک بیشتری به جو زمین خواهید نمود.

**۱۴. لباس‌های‌تان را روی بند رخت خشک کنید**

به جای استفاده از رخت‌خشک‌کن، لباس‌های خود را روی بند رخت خشک کنید. هرچه انرژی کمتر مصرف شود، بهتر است.

**۱۵. همیشه از محصولات قابل‌بازیافت استفاده کنید**

اگر به محصولات قابل‌بازیافت دسترسی دارید، حتماً از آنها استفاده کنید. برای تولید این محصولات به انرژی کمتری نسبت به سایر محصولات نیاز است.

**۱٦. از هر دو طرف کاغذ استفاده کنید**

در غیر این صورت، تنها چیزهای اطراف خود را اسراف می کنید.

**۱۷. از کیسه‌های کاغذی مجدداً استفاده کنید**

این کیسه‌ها تقریبا برای هر چیزی که تصورش را می‌کنید قابل‌استفاده است و از آن مهم‌تر به راحتی می‌توان این کیسه‌ها را بازیافت نمود.

**۱۸. از کیسه‌های پلاستیکی استفاده نکنید**

کیسه‌های پلاستیکی ساخته شده از فرآورده‌های نفتی هستند و به محیط‌زیست آسیب می‌زنند چرا که تجزیه‌ی آنها زمان بسیار زیادی طول می کشد و البته بعضی از آنها اصلا تجزیه‌پذیر نیستند.

**۱۹. محصولاتی را انتخاب کنید که بسته‌بندی‌های خیلی کوچکی دارند**

هنگام خرید، به محصولاتی توجه کنید که بسته‌بندی کوچک داشته و مجدداً قابل استفاده باشند. حتی اگر این محصولات بسته‌بندی باشند، سعی کنید محصولاتی بخرید که بسته‌بندی کمتری دارند.

**۲۰. به جای برگ‌روب از جارو استفاده کنید**

محصولاتی که باعث پخش شدن گرد و غبار می‌شوند را انتخاب نکنید. مثلاً، به جای برگ‌روب از جارو استفاده نمایید.

**۲۱. از مواد کیمیایی خطرناک استفاده نکنید**

تا حد امکان از مواد کیمیایی که بوی تندی دارند استفاده نکنید. در غیر این صورت، از این مواد در خارج از محل زندگی استفاده کنید.

**۲۲. سگرت را ترک کنید**

سگرت را ترک کنید و دیگران را نیز به ترک سگرت تشویق نمایید. دود سگرت هم برای خودتان و هم هوایی که در آن نفس می‌کشید مضر است.

**۲۳. نشتی‌ها را عایق‌بندی کنید**

داخل و اطراف محل زندگی خود را عایق‌بندی کنید تا بدین ترتیب برای گرمایش آن نیازی به مصرف زیاد انرژی نداشته باشید.

**۲۴. سفرهای خود را با هم ادغام نمایید**

سعی کنید برنامه‌ی خود را طوری تنظیم کنید که برای انجام آنها فقط یک بار از خانه خارج شوید. با این کار سوخت کمتری مصرف می‌کنید.

**۲۵. ممیزی انرژی انجام دهید**

از یک متخصص بخواهید که در خصوص مصرف بهینه‌ی انرژی، خانه‌ی شما را وارسی نماید و تغییرات لازم برای بهینه‌سازی مصرف انرژی را به شما توصیه نماید. پیشنهادهای آنها می‌تواند کمک شایانی به شما در صرفه‌جویی انرژی و حتی پول در دراز مدت نماید.

**۲٦. از محافظ‌های برق استفاده کنید**

اگر در محل‌هایی از چندین وسیله‌ی برقی استفاده می کنید، آنها را به یک محافظ برق وصل کنید. وقتی که از هیچ‌یک از وسایل استفاده نمی‌کنید، محافظ را خاموش کنید. با این کار هم عمر مفید وسایل برقی خود را بالا می‌برید و هم در مصرف انرژی صرفه‌جویی خواهید کرد.

**۲۷. به‌جای کولر گازی از پنکه استفاده کنید**

اگر هوا خیلی گرم نیست، تا حد امکان به جای کولر گازی از پنکه استفاد کنید. پنکه انرژی کمتری مصرف می کند.

**۲۸. وقتی هوا سرد است، از پتو استفاده کنید**

از طرف دیگر، اگر هوا خیلی سرد نیست، به جای هدر دادن نیروی گرمایشی از پتو و رانداز استفاده کنید.

**۲۹. مصرف خود را کاهش دهید، بازمصرف کنید و بازیافت کنید**

تا جایی که می‌توانید بازیافت نمایید تا از پسماندهای حاصل برای تولید محصولات دیگر مجددا استفاده شود. با این کار، شما مشکل دیگری به مشکلات محیط‌زیست اضافه نخواهید کرد.

**۳۰. محصولات تولیدشده از مواد بازیافتی بخرید**

تا حد امکان، محصولاتی بخرید که از مواد بازیافتی تهیه شده‌اند. این کار نیاز به خرید مواد اولیه‌ی تازه برای تولید محصول را کاهش خواهد داد. هنگام خرید، به دنبال محصولاتی باشید که روی آن نشان بازیافت داشته باشد یا حداقل از ترکیبات قابل‌بازیافت ساخته شده باشند.

## ټاکنو کمېسیون: د رواني اونۍ تر پایه به د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د رواني اونۍ تر پایه به د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړي. د دغه کمېسیون یوه کمېشنر اورنگزیب ویلي، د اوو ولایتونو د رایې شمېرنې لپاره چمتووالی نیول شوی، کله چې بشپړ شي پایلې به اعلان کړو.

هغه ویلي: «هڅه کوو چې دې اوو ولایتونو ته زمونږ پلاوی ورسېږي او هیله من یو چې د بهرنیو او کورنیو څارونکو تر مخ دا بهیر بشپړ کړو، د ۲۷ ولایتونو د رایو بیاشمېرنه بشپړه شوې چې د اوو ولایتونو پاتې او د دې اونۍ په پای کې لومړنۍ پایلې اعلانوو».

په ورته وخت کې د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشر عبدالله عبدالله پرون په بغلان کې له خپلو پلویانو غوښتې چې د رایو د بیاشمېرنې بهیر بنه وڅارې او د دغه بهیر بشپړېدو ته دې اجازه ورکړي.



دا په داسې حال کې ده چې نوموړي ورمه ورځ ناوخته په کابل کې خپلو پلویانو ته اعلان وکړ چې په هغو اوو ولایتونو کې چې پلویانو یې د رایو د بیاشمېرنې مخه نیولې ده، د دې بهیر د بشپړېدو اجازه ورکوي.

عبدالله په کابل کې ورمه شپه ماسخوتن ناوخته په داسې حال کې چې مرستیالان او نور مهم ملاتړي یې شاوخوا ولاړ وو ویلي، هغه رایې اوس هم نه مني چې د دوی ټاکنیزه ډله پرې اعتراض کوي، خو په وینا یې چې یوازې د ښه نیت څرگندولو لپاره یې دا پرېکړه کړې ده.ئدا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو کمېسیون نږدې یوه میاشت وړاندې پرېکړه وکړه چې د شاوخوا ۸۵۰۰ محلونو رایې د ځینو ستونزو له امله له سره شمېري. خو د ټاکنو کمېسیون د دغه پرېکړې په غبرگون کې د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشر عبدالله عبدالله په گډون، د ولسمشرۍ ځینو نورو نوماندانو اعتراضونه پیل کړل. له همدې امله د رایو د بیاشمېرنې بهیر په ځینو ولایتونو کې له ټاکلي نېټې شاوخوا یوه اونۍ وروسته پیل شو.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۸۰ |
| € | ۸۷,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰٤ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

AYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۵مه | ٤۷۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱٤ | ۱٥ | ۱۱ | ۱٦ | ۱۲ |
| ٤- | ۲ | ۰ | ۰ | ۳ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۲۲ | لمر ختل ۰٦:٥۱ | ماسپښين ۱۱:٤۸ | مازيګر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤٥ | ماخوستن ۰٦:۱٤

## نړۍ



## سيستاني: په عراق کې د حکومت ضد لاريونوالو پر وړاندې د جنايت روانه لړۍ بايد ژر تر ژره ودرول شي

۳

## سندها: سند تحصیلی سکرتر مشاوربلندپایهٔ رئیس جمهور غنی ناقص بوده‌است



سندهایی به دست رسانه هارسیده‌است که نشان می‌دهند شادمحمد سرگند، مشاور بلندپایهٔ رئیس‌جمهور در امور زیربناها، زنی را به سکرتریت خودش گرفته‌است که سند تحصیلی وی ناقص بوده‌است و نیز ماه‌هاست، این بانو بی حاضر شدن به محل کار اصلی‌اش، تنخواه می گیرد.

در یک نامهٔ رسمی وزارت امور زنان که به روز دهم ماه حمل سال جاری هجری خورشیدی به ریاست ادارهٔ امور ریاست‌جمهوری نگاشته شده‌است، آمده‌است که این وزارت تمامی سندهای مربوط به بانو دل افروز را که کارمند پیشین این وزارت بود و سپس به سکرتریت شادمحمد سرگند گماشته شده‌است، به ادارهٔ امور فرستاده است.

اما در نامه‌یی‌که ریاست ادارهٔ امور، به روز هژدهم ماه ثور سال جاری، به وزارت امور زنان نگاشته‌است، دیده می‌شود که ادارهٔ امور از مشکلات در سند تحصیلی بانو دل‌افروز پرده برداشته‌است.

منابعی به طلوع‌نیوز گفته اند که این بانو، با شناخت پیشینی که از شادمحمد سرگند داشته است، به مقام سکرتری او گماشته شده‌است و در حالی که در حدود ده ماه از دست‌یافتنش به این کرسی می‌گذرد، تاکنون به کارش حاضر نشده‌است و ماهانه تنخواهش را نیز دریافت می کند.

خود شادمحمد سرگند هم می‌پذیرد که در سند تحصیلی سکرترش، مشکل وجود داشته‌است و می‌گوید که این بانو در بخشی بیرون از دفترش، برای او کار می‌کند: «غلطی در سن شده بود. باز آن را پسان به من گفتند که اصلاح شده، بخاطر این، من پشت همین موضوع نگشتم. در عین زمان چون در ارگ جای بسیار کم است برای دفتر و در عین وقت ما یک لابراتوار، در پل چرخی یک لابراتوار مواد تعمیرات تیار می کنیم، در آن‌جا من بسیار کار می کنم، در آن‌جا همین (دل‌افروز) را روان کردیم».

## پامپيو: که تهران د واشنګټن ګټو ته زيان ورسوي، سخت ځواب به ورکړو



د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ايران ته خبرداری ورکړی، که په عراق کې د امريکا ګټو ته زيان واړوي، واشنګټن به يې پر وړاندې سخت ځوابي اقدام وکړي.

پامپيو وروسته له هغې دا خبره کړې چې په دې وروستيو کې د عراقي او بهرنيو ځواکونو پوځي اډو ته څېرمه راکيټي بريدونه وشول.

پامپيو په يوه اعلاميه کې د ايران نيابتي وسله وال تورن کړي چې پر هغو پوځي اډو يې ډېر بريدونه کړي، چې د عراق امنيتي ځواکونه له امريکايي او د نړيوال ائتلاف له پرسونل سره په ګډه دېره دي.


ويل کېږي چې دغه ځواکونه د اسلامي دولت ډلې يا داعش پر وړاندې په مبارزه کې ښکېل دي.

په اعلاميه کې دغه راز راغلي چې د بغداد نړيوال هوايي ډګر په انګړ کې د عراق پر يوې ودانۍ د تېرې دوشنبې په حمله کې پنځه عراقي سرتېري ټپيان شوي، چې د دوو روغتيايي وضعيت نازک دی.

اعلاميې زياته کړې چې تېره چهارشنبه پر دغه هوايي ډګر بل راکيټي بريد وشو، چې په دې تړاو زيات جزيات نه دي ورکړل شوي.

پامپيو ايراني چارواکو ته خبرداری ورکړی چې د دوی او د دوی د نيابتي وسله والو له خوا هر ډول بريد که امريکايانو يا د دوی متحدانو يا د امريکا ګټو ته زيان ورسوي، د امريکا له خوا به سخت ځواب ورکړل شي.

## راپورونه: د سوډان يوې محکمې پخوانی ولسمشر عمر البشير پر دوه کاله بند محکوم کړی دی



د راپورونو له مخې، د سوډان يوې محکمې د دغه هېواد پخوانی جمهور رييس عمر البشير پر دوه کاله زندان محکوم کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد پخوانی ځواکمن جمهور رييس عمر البشير چې درې لسيزې يې پر دغه هېواد واکمني وکړه، د روان کال د اپرېل په مياشت کې له څو مياشتنيو اعتراضونو وروسته له واکه ګوښه کړای شو.

د سوډان يوې محکمې بشير په فساد او د غير قانوني پيسو په ساتلو مجرم وګاڼه او ياده سزا يې ورته واوروله.


دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې د سوډان امنيتي چارواکو اعلان وکړ چې د بشير د کور د لټولو په جريان کې يې په بکسونو کې پنځه ميلیارده سوډاني پونډ چې ۱۰۵ ميليونه ډالر کېږي، همداشان شپږ ميليونه يورو او ۳٥۱ زره ډالر نغدې پيسې تر لاسه کړې دي.

د يادونې ده چې عمر البشير په ۱۹۸۹ ز کال کې د پوځيانو او اسلامي سخت دريځو په مشرۍ د يوې کودتا په ترڅ کې په سوډان کې واکمن شو.

له هماغه وخت راهيسې د سوډان د پوځ د هغه ټينګ ملاتړ کاوه، خو د روان کال په پيل کې له څو مياشتنيو اعتراضونو وروسته، د اپرېل په مياشت کې هغه د سوډان د پوځ په ملاتړ له واک نه لرې کړای شو.

## ژوند

## الوويرا او په ښايست کې يې ونډه



الوويرا د ويښتانو سپوروالی له منځه وړي.

د الوويرا مايع، د زيتونو او کوپرې تيل سره ګډ کړئ او ګډ شوي مواد په ويښتانو وموښئ، يو ساعت وروسته يې پرېمينځئ، ويښتان به مو صاف او نرم شي.

**د پوستکي لپاره**

الوويرا په منظم ډول سره په مخ موښل، پوستکی نرم او ښايسته کوي، خو که چېرته د وريځو له اوړو سره ګډه شي او په مخ ووهل شي، نو د مخ ګونځې او توري حلقې له منځه وړي.

**د هغه پوستکي لپاره چې لمر سوځولی وي**


د ګرمۍ له وجې د پوستکي د سوځېدو لپاره د الوويرا مايع په يخچال کې واچوئ او له يخ کېدو څخه وروسته پرې پوستکی ټکور کړئ.

**د لاسو او پښو د سپوروالي لپاره**

پر ژمي سربېره، د اوړي په موسم کې هم د اوبو د کمښت له کبله پوستکی سپور او وچېږي، نو د دې لپاره د الوويرا پاڼه له شاتو سره يو ځای کړئ، د لاس او پښو په وچو او سپېرو برخو يې وموښئ، په لومړي ځل به د بدلون شاهدان و اوسی.

له بازار څخه د ميک آپ د اخيستلو پر ځای د الوويرا مايع، شات او ګليسټرول سره ګډ کړئ او ګټه ترې واخلئ.

## درد غوره ښوونکی دی



يو کتاب مې مطالعه کاوه «خوشاله خلک پر څه پوهېږي». دا کتاب ډن بېکر ليکلی دی. هغه يو ارواپوه او په کنيون رنچ چينل کې د غوره ژوند د څېړونې مدير دی. په دې کتاب کې د ښکلي او برياليي ژوند په اړه ډېرې په زړه پورې جملې دي. د کتاب ليکوال چې کله ځوان و، نوی زيږېدلی زوی يې وفات شو. دې پېښې نوموړی ډېر خواشينی کړ او په ناهيلۍ کې ډوب شو. هغه په خپل کتاب کې ليکي چې ده له ستونزو او کړاوونو څخه زده کړې دي چې: «هرڅومره چې يوه پېښه او درد لوی وي، په همغه اندازه انسان ته ژور او له مانا ډک درس ورکوي». هغه موضوعات چې زموږ زړه ماتوي، کېدای شي په حقيقت کې همدا موضوعات وي چې زموږ د زړونو په پرانيستلو کې لويه برخه اخلي. کولای شو چې له درد او غم څخه ګټه واخلو. (البته که وغواړو چې درس ترې واخلو.) د ژوند لويه ستونزه کولای شي چې تر ټولو لويې موخې ته د رسېدو موقعيت راته په ګوته کړي. هغه موضوعات چې زموږ زړه ماتوي، کېدای شي په حقيقت کې هغه وي چې زموږ د زړونو په پرانيستلو کې لويه برخه اخلي.